


# د یوې میاشتې

# ناوې

لیکوال: ډاکټر معمار حشمت الله اتمر

پیخلیک: غــبرګولی ۴۰۴ لــبردي

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لیکي پوهه:

**سرلیک:** د يوې مياشتې ناوې
**لیکوال:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**ایډیټور:**
**د پښتنې ډیزان:** ډاکټر مهندس حشمت الله ,, اتمر ،،
**خپرندوی:**
**چاپشمېر:** ۱۰۰
**چاپ نېټه:** میاشت - غبرګولی / کال ۱۴۰۴
**واټس اپ:** ۹۳۷۹۹۳۷٦۹۹۸+
**برېښنالیک:** atmar_hashmatullah@yahoo.com

د چاپ حقوق له لیکوال او خپرندوی سره خوندي دي، بې اخځ ښووني ترې د ګټې اخیستنې اجازه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................................................................

# لړلیک

**سرلیک** **چوپړی**


**پخښنتی..................................................................... ۱**

**بسم الله الرحمن الرحیم ........................................................ ۲**

**لیکي پوهه:.................................................................. ۳**

**لړلیک ...................................................................... ٤**

**تراڼ (پیل، شروع، برید).................................................... ٥**

**د یادښتونو له پاره:......................................................... ۷**

**ناانډوله (ناول، کیسه یا داستان) .............................................. ۸**

**نازولی زوی............................................................... ۱۲**

**د چاپ شویو کتابونو لیست.................................................. ۷۰**

**د کار لاندې کتابونو لیست .................................................. ۷۳**

**د امکان او وخت په صورت کې............................................... ۷٤**

**د پخښنتی څټ ............................................................. ۷٥**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## تراڼ (پیل، شروع، برید)

بِسْمِ اللّهِ الرَّحْمنِ الرَّحِيمِ، الْحَمْدُ لِلَّهِ إجْلَالًا لِقُدْرَتِهِ، وَ لَا إلَهَ إلَّا اللّهُ خُضُوعاً لِعِزَّتِهِ، وَصَلَّى اللّهُ عَلَى مُحَمَّدٍوَآلِهِ .

بې پایه ستاینه او بې حده مننه، د هغه سپېڅلي ذات نه چې د وجود مانۍ او کاینات یې د انساني وجود د تکامل او د انسان له پاره د خپل سپېڅلي ذات او عبادت د حقیقت له پېژندلو پرته جوړ کړل. هغه د ذات یو هه، عالي، لوړ او ښکلي نومونه دي، او کائناتو د پیدایښت یوه حتمي لامل دی. عظمت، د ټولې نړۍ موجودیت، د ناڅاپه څخه راوتل، حق د رسیدو جوهر په یوه والي کې د اعتراف، تباهۍ او بې وسۍ یوه له لوړو وسیلو څخه دی.

**ګرانو لوستونکو!**

دا ځل مې و غوښتل یو بل حقیقي داستان یا ناول چې کیسه یې په هېواد کې د ننه تېره شوې ده، د خپلو کتابونو مینوالو او لوستونکو سره شریکه کړم. زما د کتابونو مینه وال یوازې معماران او انجینران نه دي، نه باید اوسي، نوځکه غواړم ورځ په ورځ د خپلو لیکونو کې توپیر راوړم چې د هرې ځانګې مینه وال په کې ډېر شي، دا کار به ما دېته اړ کړې چې لیکنې مې توپیر و لري او هم به مې مینه وال ډېر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې مياشتې **ناوې**

......................................................................

**پاکه ربه!**

زموږ له پاره خپله لاره بې ستونزې کړه، تر څو موږ له تا پرته بل څوک و نه وينو او نه يې وپېژنو. زموږ سره مرسته و کړه تر څو مو په وجود کې د غرور نخښه پاتې نه شي او د اسلام د دين له سپيڅلو بنده ګانو څخه مو و بولې.

- د نظر تولو خاوندانو او هغه څوک چې دا کتاب لولي په ډېر درنښت هيله کيږي چې، خپلې غوښتنې او وړانديزونه د دې کتاب د بيا کتنې له پاره، زما سره شريکه کړئ.

Whatsapp: ۰۰۹۳۷۹۹۳۷۶۹۹۸

په در نښت
ډاکتر معمار حشمت الله اتمر

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې مياشتې ناوې

..........................................................................

**د يادښتونو له پاره:**

۱- ...........................................................................

۲- ...........................................................................

۳- ...........................................................................

۴- ...........................................................................

۵- ...........................................................................

۶- ...........................................................................

۷- ...........................................................................

۸- ...........................................................................

۹- ...........................................................................

۱۰- .........................................................................

(c) ketabton.com: The Digital Library



**ناانډوله (ناول، کېسه يا داستان)**

په پخوا وختونو کې د هېواد په يوه ولايت کې، يوه بډايه کورنۍ ژوند کوه.

هغوی ډېرې ځمکې او د کابل ښارمرکزی جادې کې يې څو تجارتی ودانۍ درلودې.

دکورنۍ د مشر نوم سرور و.

ژوند يې په ښه توګه مخ ته، ته.

هغوی دوې زامن او يوه لور درلوده.

د مشر زوی نوم يې حکمت، د دوهيم زوی نوم يې مهنت او د لور نوم يې سنځله وه.

زامن يې هم خورا نازولي روزلي وو.

څه موده وروسته ، هغوی کابل ښار ته کډه شول، تر څو الکانو او جلۍ باندې سبکونه و وايي.

هغوی د کابل ښار په يوې سيمې کې ژوند پيل کړ.

کلونه تېرېدل او ماشومان يې لوېدل.

هغوی د ښونځي شو.

بيا مور او پلار يې کوښښ وکړ تر څو هغوی په ښوونځي کې شامل ( د ننه) کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی لمړی خپل مشر زوی او دوې کاله وروسته خپل دوهم زوی په نږدې ښونځي کې شامل کړل.

هغوی به ښوونځی ته، تلل.

هغوی د درسونو(سبکونو) سره مینه نه درلوده، مور او پلار به یې هغوی په زوره ښوونځي ته لیږل (استول).

کله به یې مور او کله به یې پلار هم هغوی تر ښوونځي پورې رسول.

هغوی به خپلو ځامنو ته پیسې ورکوې چې د تفریح په وخت کې له کانتینه ( د ښوونځي له هټیه) خپل د خوښې خواړه واخلي او الته یې وخوري.

کله به یې هغوی ته د خپل د خوښې خواړه په کور کې پخول او هغه به یې په ښه لوښي کې اچول، بیا به یې د هغوی په کڅوړو کې ایښودل تر څو د تفریح په و خت کې یې وخوري.

په هغه وخت کې د نورو خلکو اقتصادي وضعیت هم د دوی په شان نه و.

نورو زده کونکو به له کوره وچه ډوډۍ راوړه.

د چا چې اقتصادي وضعیت لږ ښه و، هغوی به څه پیسې لکه پنځه پولې، شانزده پلي (شانزده پولي) او یا هم قېران( دهغه پېر پیسې) راوړې او د تفریح په وخت کې به یې خواړه پرې اخیستل.

دوی به ډېرې پیسې راوړې او هر څه به یې اخیستل، نورو ته به یې نه ورکول.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې مياشتې ناوې

.........................................................................

بې وزلو کسانو به هغوی ته کتل او څه به يې نه ويل.

هغوې به خپلې سپورې (وچې) ډوډۍ خورې بيا به د اوبو څښلو له پاره نل خوا ته تلل او التبه به يې په لپو اوبه څښلې.

وختونه تېرېدل او هغوی نور هم لوېدل.

څه چې لوی شوو، بيا به سينما ته هم تلل.

په ټولګي کې به يې نور الکانو سره هم شخړې کوې.

کوم وخت چې به کور ته لاړل، بيا به خپل مور او پلار ته شکايت کوه چې:

مونږ سره، زمونږ ټولګيوالو شخړه وکړه.

بيا به مور يې و ويل:

د هغوی کورونه چېرته دي؟

الکانو به د هغوی کورونه خپلې مور ته ښودل او هغې به هم د الکانو د مورګانو سره شخړه کوه.

پلار به يې چې کور ته راغی، ښځې به يې و ويل:

ته پوهېږې چې د الکانو سره په ټولګي کې بې وزلو او بې پروا خلکو شخړه کړې ده.

زه لاړم او هغوی د مور ګانو سره مې شخړه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته هم څه کسان در سره واخله، لاړ شه او د هغوی د پلارنو سره شخړه او هغوی ښه و وهه تر څو د هغوی اولادونه بيا زمونږ د ځامنو سره شخړه و نه کړي.

ته پو هيږې چې مونږ بډای يو.

بايد نور کسان زمونږ نه اطاعت او مونږ ته احترام وکړي.

د ښځې ميړه به ويل:

دا ښه کار نه ده.

ټول د خدای بنده ګان دي.

مونږ د چاه نه لوړ نه يو.

سمه ده مونږ څه شتمني لرو.

نه شو کولای چې خلک خپل غلامان و بولو.

دا پيسې او قدرت زمونږ سره امانت او د څو ورځو له پاره دي.

ښځې يې سر زورې وه.

خپل د ميړه خبره به يې، نه منه.

ما شومان يې خورا نازولي کړل.

ماشومانو به يې په سړکونو او کوڅو کې له خلکو سره شخړې کوې.

هغوی پوهېدل چې مور يې د هغو لنګه (ننګه) کوي، هم د ښوونځي اداري ته ځي او د الکانو ښکايت هم کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



........................................................................

د الکانو پلار به خپلې ښځې ته ويل:

ته د الکانو لنګه مه کوه.

هغوی به لوی او نازولې شي.

په پښتو ژبې کې د نازولي زوی په هکله يوه شعر دی چې وايی:

## نازولی زوی

نازولی زوی نه اخلي ادب

او د سوري نخل نه نيسي رطب

ونيو مه شه هغه زوی په خوا پوری
چې يې نه نيولی درس وي نه مکتب

په غوجل کې باري خر او کچر ښه دی
نه په خونه کې جاهل او بې طلب

چې پيدا شي يو ناکس په قبيله کې
وړاندې وروسته حبطه کاندي نسب

د پسر په نيک او بد پلار يادېږي
دا خبر ده په جهان کې مجرب

په سواره باندې ګوته شي اېښوده
چې يې آس برابر نه ځي په جلب

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې مياشتې **ناوې**

.....................................................................

په زړه مهر په خوله قهر زوی ته بويه
څه ښه وايي چرته ډب هلته ادب

يوسف هاله شو لايق د بادشاهي
چې يې وخوړې څپيړې د غضب

هر ناکس لکه مگس باندې بنيږي
چې حميد نرم گويي که شکر لب

ښځې يې ويل:

دا د پخوا خبرې دي.

زه يې نه منم.

ما په ستونزو سره خپل ماشومان لوی کړي دي.

مېړه به يې ويل:

کومې ستونزې؟

ته خو مينځه هم لرې.

هغه له تا سره مرسته کوي.

نورې ټولې دندې، پيسې تر سره کوی، د پيسو د راټولو کار زما پر غاړه ده.

هغې به نه منه.

ورو، ورو د هغوی تر منځه اړيکې ورانې شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................

ښځې به د مېړه او مېړه به د ښځې خبرې نه منې.

خو کاله تېر شو.

مېړه يې د ځينو سوداګرۍ کارونو له پاره بهر ته لاړ.

څه موده وروسته د هغې مېړه بېرته ستون شو.

د هغه پېرودل شوي مالونه ورسېدل.

هغه د ګمرک د محصول له ورکونې نه وروسته، مالونه بازار ته د پلور له پاره وړاندې او خورا ګټه يې په کې وکړه.

هغه پيسې کورته راوړې.

ښځې يې و ويل:

پيسې ټولې ما ته راکړه.

مېړه يې و ويل:

دا خو د سوداګرۍ پيسې دي.

زه بيا د مالونو د اخيستنې د پاره بهر ملکونو ته ځم.

ښځې يې و ويل:

ته چې بهر ملکونو ته ځې، خدای پوهېږي چې په څه ناراوا کارونو اخته يې.

د سوداګرۍ په پلمه (بهانه) د هبواده ځې او په مياشتو الته ورک يې.

مېړه يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې مياشتې **ناوې**

.....................................................................

زما دنده سوداګري ده، زه مجبور يم تر څو کار وکړم او پيسې و ګټم.

ښځې يې و ويل:

زه تا ته اجازه نه درکوم چې بيا د هېواد نه بهر لاړ شې.

مېړه يې و ويل:

دا کار نا شونی دی.

زه اړين (مجبور) يم چې د کار اوبار له پاره بهر ته لاړ شم.

ښځې يې د هغه خبره نه منه او د هغوی اړيکې مخ په ورانېدو شوې.

د هغه ښځه به تل په غصه او مېړه ته به يې بدې ردې ويلې.

د هغوی اړيکې ډېرې ورانې شوې.

د مېړه هره خبره به د هغې په ښځې بده لږېده.

يوه ورځ مېړه يې خپلې ښځې ته و ويل:

زه څو ورځې وروسته د سواګرۍ له پاره بهر ته ځم.

دا ځل مې ښه شيان په پام او لېست کې نيولي، تر څو يې و پېرم او هېواد ته يې راوړم.

په دې شيانو کې به ډېره ګټه هم وکړم.

ښځې يې و ويل:

زه خو تا ته اجازه نه درکوم، ما خو مخکې هم ويلي و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که ته د هېواده بهر ځې، بیا دې خدای ستا مړی راوړي.

مېره یې و ویل:

دا څه حال دی.

زه د کار او بار له پاره ځم.

ښځه یې په غصه شوه.

اخوا او دېخوا یې وکتل، څه یې پیدا نه کړل تر څو پر مېړه وار وکړي.

له ځایه پاڅېده او الماریٰ خوا لاړه.

د الماریٰ دروازه یې خلاصه او د پیالو وارونه یې پر مېړه پیل کړل.

مېړه به یې ویل:

څه خبره ده؟

لېونۍ شوې یې؟

هغې به ویل:

بس ده!

خبرې مه کوه!

ته ډېر وران سړی یې.

خدای دې تا واخلي، تر څو زه له تا نه بې غمه شم.

مېړه یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه مې کړي؟

بيا ښځې يې پرې وار وکړ.

دا ځل پياله يې د هغه پر سر ولګېده او د هغه سر مات شو.

د سر نه يې وينې په بهېدو شوې.

کالي يې په سرو وينو سره شو.

د هغوی ماشومانو هم غوښتل چې د خپل پلار لنګه وکړي، خو هغې ورته اجازه ورنه کړه.

د هغې مېړه د کوټې نه د باندې بيا انګړ ته لاړ.

ځاه ته نږدې او له ځاه يې اوبه راو وېستې.

کوزه يې له اوبو ډکه او خپل د سر د وينو په منځلو لګيا شو.

بيا له کوره و وت او درملتون خوا ته لاړ.

درملتون ته د ننه شو.

البته د درملتون نرس، هغه ته و ويل:

څه در باندې شوي؟

هغه و ويل:

هيڅ!

په کور کې مې کار کوه.

په ناڅاپي توګه سر مې وګرځېد (وڅرخېد).

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ځمکه وغورځېدم او سر مې مات شو.

بیا د درملتون نرس و ویل:

پر دغې څوکۍ کېنه!

هغه پر څوکۍ کېناست.

نرس د عاجله داروګانو الماری ته نږدې شو.

څه دارو او سامانونه یې واخستل او دهغه د سر د ټپونو په پاکونه، لګیا شو.

د هغه سر ډېر مات شوی و.

د هغه په سر کې د پیالې شیشه هم ننوتلې وه.

نرس و ویل:

سر دې لږ ښکته کړه تر څو د سر نه دې شیشه و باسم.

نرس د هغه د سر نه شیشه و باسه.

بیا یې و ویل:

په سر کې دی د پیالې شیشه څه کوې؟

هغه و ویل:

څو ورځې مخکې د زوی له لاسه مې پیاله وغورځېده او ماته شوه.

بیا هغه، د شیشې ټوټې ټولې کړې او د کثافاتو په لوښې کې یې واچوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د يوې مياشتې **ناوې**

.........................................................................

کېدای شي کومه شيشه ترې پاتې وي.

او دا شيشه زما د لوېدو سره سم، په سر کې مې تللې وي.

نرس څه و نه ويل.

د هغه سر يې پانسمان او څلور ځايه يې و ګانده (بخيې کړل).

بيا يې پرې ګاز او بنداژ تاو کړ.

وروسته يې ورته د درد د کلارېدو (بنه کېدو) دارو وکړه او ويې ويل:

دا دارو د درې ورځو له پاره دي.

يوه يې سهار بله غرمه او درېيمه يې د شپې، وروسته له ډوډۍ نه و خوره.

دوا دې چې خلاصه شوه، بيا يوه تکره داکتر ته لاړ شه او خپل د زړه معاينات دې وکړه.

هغه و ويل:

سمه ده!

زه خو اسې (هسې) په نږدې ورځو کې بهر ته ځم، التـه به خپل ټول معاينات تر سره کړم.

نرس و ويل:

دا خو بيخي ښه خبره ده.

بيا سرور و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مننه کوم.

فيس دې څو شو؟

هغه و ويل:

کومه خبره نه شته.

سرور بيا زياته کړه او ويې ويل:

مننه کوم، فيس به دې هرو مرو اخلې.

بيا نرس و ويل:

که پيسې در سره وي، لس افغانۍ.

سرور و ويل:

پيسې شته.

بيا يې جب ته لاس او پيسې يې را و وېستې.

هغه ته يې لس افغانۍ  ورکړې او نورې پېسې يې بېرته په جب کې کېښودې.

د هغه نه يې خدا پاماني واخسته او له درملتون نه د باندې شو.

هغه مخ په کور روان شو.

په لاره کې يې خپل ملګرى وليد او هغه سره يې روغبړ وکړ.

ملګرى يې و پوښتل:

څه در باندې شوي؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



کالي دې هم په وينو دي.

سر دې هم تړلی دی.

سرور و ويل:

**هېڅ!**

هسی سر مې وګرځېد (وڅرخېد) او په ځمکه و غورځېدم.

کوم وخت چې پاڅېدم، و مې ليدل چې سر مې مات شوی دی.

ملګري يې و ويل:

ښه شوه چې بلا وه او برکت يې نه و.

سرور وخندل او څه يې و نه ويل.

بيا سرو خپل ملګري ته کور د تګ بلنه ورکړه.

ملګرى يې مننه وکړه او ويې ويل:

اوس څه کارم، کومه بله ورځ به راشم.

بيا هغه سره خدا پاماني وکړه.

سرور کور ته لاړ.

کور ته د ننه شو.

ښځې يې هغه وليد او هېڅ خيال يې پر هغه را نه وړ.

سرور خپلې کوټې ته لاړ او پر خپل کټ کېناست.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا يې د ابو لوبنی واخيست او ځاه خوا ته لاړ.

د ځاه نه يې اوبه را و وېستې او لوبنی يې ډک کړ.

بيا کوټې ته روان شو.

پر کټ کېناست او دوا يې له کوشنۍ کځوړې را و وېسته، غوښتل يې يوه ګولې خولې ته واچوي او يوه پياله اوبه ورپسې غړپ کړي. په دې وخت يې پر ياد شو چې د درملتون نرس هغه ته ويلې و چې دوا له ډوډۍ نه وروسته ( په مړه خېټه) وخوري.
هغه ګولۍ بېرته په کځوړې کې کېښوده.

هوا تياره او ماښام شو.

هغه پخلنځي ته د ننه شو.

د لوښو سرونه يې لوڅ کړ.

په يوه لوښی کې يې سابه وليدل.

سرور لوښی واخيست او پر نغري يې کېښود.

سابه يې تاوده او وروسته يې په غاب(بشغاب، بشقاب يا پلېټ) کې واچول.

لږ ډوډۍ يې هم واخيسته او خپلې کوټې ته د ننه شو.

ډوډۍ يې وخوړه.

بيا يې کځوړه راواخسته او يوه ګولۍ يې خولې ته واچوه او يوه پياله اوبه يې ورپسې وځښلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نيمه ګړۍ وروسته پر هغه خوب راغی.

هغه پر خپل ځای پرېوت او بيده شو.

سهار وختي لمانځه ته پاڅېد.

سر يې لږ درد درلود.

لمونځ يې ادا او بيا يې ځانته د سهار چای دم کړ.

چای يې تياراوخپلې کوټې کې و څښه.

بيا يې دوايي وخوړه، وروسته يې کالي بدله او له کوره خپل کار ځای ته لاړ.

څو ورځې تېرې شوې.

د هغه د تګ وخت ورسېد.

مازيګر وختي کور ته راغی.

خپل کالي يې راټول او په لوې کڅوړې (بکس) کې يې کېښودل.

د شپې ډوډۍ يې يواځې وخوړه او وروسته يې چای هم و څښه.

د ماسخوتن لمونځ يې وکړ.

بيا وختي بيده شو.

سهار وختي له خوبه پاڅېد او له لمانځه نه وروسته يې غوښتل چې خپل ماشومان راوېنې او له هغوي سره خدای پاماني وکړي.

خو، ښځې يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مه کوه!

ماشومان له خوبه مه ويښوه.

ماشومان ما په خپله لوی کړی دي.

زه تا ته اجازه نه درکوم چې هغوی له خوبه اوچت کړې.

دا خبره پر سرور ډېره بده ولګېده.

څه يې و نه ويل او د کوره د باندې شو.

بيا په ټکسي کې کېناست او هوايي ډګر ته لاړ.

يوه ګړۍ وروسته الوتکې، الوتنه وکړه.

سرور ډېر خواشينی و.

د خپلې ښځې کړنې به يې چې په ياد راتلې، هغه ته به ژړا ورتله.

بيا به يې ويل:

خدايه توبه!

له بدو يې توبه!

څلور ګړۍ وروسته هغه خپل ټاکلي ځای ته ورسېد او د کاروبار په هکله يې د نورو سوداګرو سره خبرې وکړې.

څو ورځې تېرې شوې.

د هغه په ذهن کې د ښځې د پيالو  ګذارونو پيښه تېره شوه.

پر هغه داکار ډېره ناوړې اغېزه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه  هوډ وکړ تر څو هر څه پرېږدي.

خپله سوداګري، هېواد، ماشومان، ښځه، ځمکې، سوداګريز ودانۍ او داسې نور.

شپه وه.

تولې شپه يې سوچونه وهل (کول) او سمه پرېکړه يې نه شو کولی.

بيا په سوچونو، سوچونو کې بيده شو.

سهار وختي پاڅېد او لمانځه د ادا کولو نه وروسته يې پريکړه وکړه تر څو يو بل لرې هېواد ته لاړ شي.

هغه چای وڅښه، بيا د لرې هېواد سفارت ته لاړ تر څو د هغه هېواد ويزه تر لاسه کړي.

سرور غښتلی ځوان، په انګرېزۍ ژبې پوی او نوموړی سوداګر و.

هغه څو ورځې وروسته د خپلې خوښې هېواد ويزه تر لاسه کړه او الته لاړ.

د ښځې سره يې کرکه پيدا شوه.

بيا يې ښځې ته يو ليک واستاوه.

په هغه ليک کې يې دومره ليکلې و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوې مياشتې وروسته ليک د هغې ښځې ته ورسيد.

څو مياشتې تېرې شوې.

هغې سوچ کوه چې هغه ټوکې کوي، بيا به راشي.

شپږ مياشتې تېرې شوې د هغه درک و نه لګېد.

بيا ښځې يې خپل د مېړه او د خپلې کورنی ته و ويل:

سرور هوډ کړی دی چې هېواد ته ستون نه شي.

ستاسو نظر په دې هکله څه دی.

ځينو به يوه او نورو به بله خبره کوه.

چا به ويل:

ښه به وې چې له مېړه نه دې جلا (طلاق) واخلې.

بل به ويل:

ښه به وي چې انتظار وکړې، تر څو هغه بېرته راشي.

هغې څو کاله انتظار وکړ، مګر سرور بېرته ستون نه شو.

هغې خپل زامن لوی او د دولسم ټولګيو نه فارغه کړل.

چندان سبق يې و نه ويل.

مور يې کوښښ وکړ چې پر هغوی پوهنتون و وايي، مګر نازولې او د بډايې کورنې ماشومان، چېرته ښې زده کړې کوي.

زامن به يې بې ځايه، بې ځايه ګرځېده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی په نشه يي توکو او شراب څښلو اخته شوو.

د سرور ښځې بل مېړه و نه کړ.

هغه د خپلو زامنو او لورسره حج ته لاړه.

البته يې خپل زامنو ته سوګند ورکړ تر څو له ناروا کارونو نه لاس پر سر شي.

هغوی البته ومنه.

کله چې هېواد ته ستانه شوو ورو، ورو يې بېرته پخواني کارونو ته مخه وکړه.

څه موده تېره شوه.

مور يې خپلو ورونو ته د اولادونو له لاسه شکايت وکړ.

بيا ماما ګانو يې خپلې خور ته و ويل:

ښه به وې چې هغوی ته ښځې وکړې تر څو د کوڅو نه پښې يې ټولې شي.

هغې لمړی خپل مشر بيا دوې کاله وروسته خپل کشر زوی ته واده وکړ.

هغوی ورو، ورو د پخواني دولت په ښاد (امنيت) کې شامل او دندې يې تر لاسه کړې.

هغوی به البته هم بدماشي کوه.

خلکو به د هغوی نه ډېره کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چا به د هغوی سره تګ او راتګ نه کوه.

د سرور لمسيان پيدا شوو.

هغوی هم نازولي لوېدل.

د هغوی نيا به د هغوی مور ګانو ته ويل:

دوی بايد د پلرونو په شان زړور وي،

زه نه غواړم چې څوک پر هغوی خبرې وکوي.

د سرور لمسيان هم د سرور د زامنو په شان په ښونځيو کې تنبل و.

تل به يې د نورو الکانو سره جګړې کوې.

پلارونو به يې هم د هغوی لنګه کوه.

الکانو به هم هغه کار کوه چې زړه يې ورته کېده.

چا چې به د هغوی د زامنو نه شکايت وکړ، پلارونه به يې راتلل او هغوی ته به يې سپکې سپورې و يل.

که چا به چېرته په ښوونځي کې د هغه له ځامنو نه شکايت وکړ.

د هغوی پلارونه به راتلل او د سيمې پوليسو ته به يې زنګ واهه او هغوی به يې د څو ګړيو له پاره بندي کول.

چا به له وېرې او بې عزتۍ په خاطر د سرور لمسيانو ته څه، نه ويل.

هغوی هم د خپلو پلارونو په شان نازولي او بېکاره لوېدل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه موده تېره شوه.

د حكمت مشر زوی چې رحمت نومېده د سګرټو په څكولو اخته شو.

بيا وروسته نشه يې توكو لكه چرس به يې هم څكول.

ښوونځي ته، نه ته.

ډېرى وخت به يې خپل د پلار موټر اخيست او د نورو الكانو سره به هرې خوا ته، ته او ناوخته به كور ته ستنېده.

پلار به يې هغه ته څه نه ويل.

هغه په سختۍ سره له ښوونځي فارغ شو.

يوه كال تولګۍ يې په دوو كالونو كې لوسته.

د كار او كسب نه و.

اخوا دېخوا ګرځېده، پيسې يې بې ځايه مصرفوې، بې ځايه دوستان يې درلودل، هرې خوا يې سفر كوه، د كور نه به يې غلا هم كوه، خلكو ته يې نقصان رسوه، نجونو پسې به ته، نجونو ته يې لاره نيوه او داسې نور وران كارونه تر سره كول د هغه او د هغه د ورو كار و.

خو كاله تېر شو.

هغوى تكړه ځوانان شو.

هغوى ډېر ملګري درلودل كوم چې د لوړپوړو چارواكو ځامن وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.......................................................................

هغوی هم ډېرې پیسې درلودې او د سرور د لمسیانو په شان به ګرځېدل.

هغوی به د خپلو پلارونو دولتي موټرو کلی اخیستې لارو، کوڅو او سړکونو کې به یې زغلول.

هغوی به په موټرو کې په لوړ غږ بدلې اورېدې او د موټرو شیشې به یې هم تورې وې.

چا به ورته څه نه ویل.

کله به د ورځې له خوا په خپلو موټرو کې چې د موټرو تم ځایونو (پارکونو) کې یې شتون درلود، کیناستل او سګرټې یې لګول او تر ناوخته به الته وو.

یوه ورځ یوه سپین ږیري کس هغوی ته د موټرو په تم ځای کې و ویل:

ګورئ!

تاسو ځوانان او د هېواد راتلونکی د تاسو په لاس کې دی.

د دغه بد عمل یانې د چرسو د څکولو نه لاس پر سرشئ.

دا کار هیڅ ګټه نه لري.

دا به تاسو ته د ګټې پر ځای تاوان ورسوي، همدا راز دا کار له شرعه هم ناروا دی.

که زما په خبره کې شک کوئ، ښه به وي چې د ماجت له ملا امام نه پوښتنه وکړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................

هغوی پر سپین ږیري وخندل او ویې ویل:

ته هسې وایې .

ځومره به دې په ځوانی کې سګرټ څکولي وي.

ځومره به دې چرس څکولي او شراب خوړلي وي.

سپین ږیري و ویل:

نه!

زه غریب سړی وم.

بیا الکانو و ویل:

پوی شوو.

که تا د مونږ په شان پیسې درلودی، تا به هم زمونږ په شان له ژوند نه خوند اخستی وی.

بیا سپین ږیري غوښتل څه و وایي.

الکانو ورته و ویل:

بس کړه او له دې ځایه لاړ شه.

مونږ ته ناورین (مزاحمت) مه کوه.

لاړ شه!

خپلو زامنو او خپلوانو ته، داسې مشورې ورکړه.

هغه خپل څټ وګراوه او له هغه ځایه لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الکانو په خندا پيل کړ.

بيا يې خپلو کړونو ته دوام ورکړ.

څه موده تېره شوه د رحمت په زړه کې يوه جلۍ ښه ولګېده.

د هغې کور د رحمت له کور نه ډېر لرې او د کابل ښار په بلې سيمې کې و.

رحمت به وختې له خوبه پاڅېده او د جلۍ د اوسېدو سيمې ته به ته.

کور کې به يې ويل:

زه سهار وختې د انګرېزۍ ژبې زده کړې کوم.

د ژبې مرکز زمونږ له کور نه ډېر لرې دی.

زه مجوره يم تر څو خپل موټر کې الته لاړ شم.

مور به يې ويل:

سمه ده.

دلته نږدې کوښښ وکړه تر څو د انګرېزۍ ژبې ځانګه و مومې.

هغه به ويل:

دلته ډېرې د انګرېزۍ ژبې ځانګې شته، خو د هغه ځای په شان يې ښوونکي تکړه نه دي.

مور يې و منه.

بيا يې هغه ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمه ده!

پر ځان او موټر باندې پام کوه تر څو ستونزه رامنځ ته نه شي.

هغه و ویل:

سمه ده مورې.

هغه به وختی هغې سیمې ته، ته او د جلی انتظار به یې کوه.

کوم وخت چې به یې جلۍ لیده، د موټر د اړخ شیشه به یې ښکته کوه، او بدلو د غږ اندازه به یې هم لوړوله.

کوم و خت به چې جلۍ خپله لاره بدلوله، هغه به هم ور پسې ته.

کوم ځای چې به د موټرو د تګ لاره نه وه، هغه به موټر د سړک پر غاړې دراوه او خپله به یې جلۍ په سې ته.

په لاره کې به یې هغې ته جان او قربان ویل.

څه موده تېره شوه.

رحمت جلۍ ته سلام ور کړ.

جلۍ هم د هغه سلام ته وعلیکم و ویل.

الک خوشحاله او خپلو ملګرو ته یې و ویل:

یو هیږی!

چې نن هغې جلۍ زما سلام ته وعلیکم و ویل.

ملګرې یې په خندا او هغه ته یې و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس کار کېږي.

ته بايد نن مور. هوټل ته بوزې او پر مونږ ښه قابلي پلو و خورئ.

هغه و منه.

ملګرو ته يې و ويل:

چېرته به لاړ شو؟

هغوی و ويل:

ښه به وې چې نن بخارا رستورانټ ته لاړ شو.

الته ښه ازبکي پلو ورکوي.

رحمت و منه.

هغوی ټول بخارا رستورانټ ته لاړل.

الته يې ډوډی و خوړه.

د ډوډی خوړلو نه وروسته له رستورانټ نه و وتل.

بيا دوستانو يې و ويل:

راځئ!

يوه قيلون خونې ته لاړ شوو.

رحمت و منه.

هغوې ټول قيلون خونې ته لاړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ګړۍ وروسته له قيلون خونې نه هم د باندې شوو.

د هغوی يوه ملګري نوم چې قدوس و، و ويل:

اوس راځئ چې باغې بالا ته لاړ او الته سګرټې وڅکوو.

هغوی و منه او التة لاړل.

التة ټولو سګرټې و څکول او وروسته د کورنو خوا روان شوو.

رحمت ټول ملګري د خپلو کوروونو ته ورسول او بيا خپل کور ته روان شو.

شپه وه، هرې خوا تياره وه.

هغه له يوې خوا خوب نيولی او له بلې خوا نشه شوی و.

لاره ورته ښه نه ښکارېده.

په ډېرو ستونزو يې ځان د هوايې ډګر سړک ته ورساوه.

التة سړکونه پراخ و، هغه د موټر سرعت ډېر کړ او نا ببره يې د يوه بل موټر سره ټکر کړ.

هغه په ځان پوی نه شو.

خلکو له هرې خوا منډې کړې.

د موټرو نه يې ټپيان را و ويستل، په نورو موټرو کې يې واچول او نږدې روغتون ته يې ولېږدول.

په دې وخت کې ترافيک هم ورسېدل او موټرو ته يې لارښونې پيل کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رحمت موټر د یوه بل موټر پر شا لګېدلی و.

دواړه موټر په بد حالت کې ول.

د رحمت د موټر مخه او د بل موټر شا یې ډېره ورانه شوې وه.

بیا ترا فیکو کرن لرونکي موټر و غوښتل او د دواړو موټر یې په کې بار او خپل مرکز ته یې ولېږدول.

د دواړو موټرو چلونکي په روغتون کې وو.

شپه ناوخته شوه.

د رحمت مور خپل زوی ته زنګ و واهه.

د هغه ټیلفون کار نه کاوه.

بیا یې خپل مېړه ته زنګ و واهه.

هغه ټیلفون اوچت او ښځې ته په غصه او ویې ویل:

څه خبره ده؟

په دې وخت کې دې زنګ و واهه؟

دومره سوچ نه کوې چې زه د خپلو ملګرو سره یم.

هغې و ویل :

تا څه کوم؟

رحمت کور ته نه دی راغلی.

د هغه ټیلفون هم کار نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه و ويل:

تر اوسه وختي دی.

کېدای شي، خپلو ملګرو سره وي.

بيا هغې و ويل:

د شپې يوه بجه ده.

هغه و ويل:

کومه ستونزه نه شته، کېدای شي خپل ملګري کور ته تللی وي، سبا به راشي.

ښځی يې د شپې خوب و نه کړ.

هغه په سوچ کې وه.

سهار شو.

مېړه يې کور ته راغی.

دروازه يې وټکوه.

ښځې يې دروازه خلاصه کړه او مېړه يې د ننه شو.

بيا يې خپلې ښځې ته و ويل:

رحمت خو به راغلی وي؟

هغې و ويل:

نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر اوسه نه دی راغلی.

بیا یې و ویل:

اوس به را پیدا شي.

بیا ودانۍ ته د ننه، خپلې کوټې ته لاړ او پر تخت پرېوت.

غرمه شوه.

د رحمت څرک و نه لرېد.

مور یې هر څه کوښښ و کړ تر څو د هغه سره اړیکې و نیسي.

خو!

هغه و نه توانېده.

د رحمت نور واړه ورونه او خویندې هم خپه وو.

ماسپښین شو.

مور یې ډېره نا کراره شوه.

بیا د مېړه تخت (کټ) ته نږدې او مېړه یې را ویښ کړ.

هغه و ویل:

څه خبره ده؟

ښځې یې و ویل :

رحمت تر اوسه لا درکه دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مېږه يې و ويل:

خير!

چېر ته دی چې تر اوسه کور ته نه دی راغلی؟

هغې و ويل:

نه پوهېږم.

بيا يې ښځې ته و ويل:

زما ټېلفون راکړه!

هغې ټېلفون ورکړ او مېړه يې د هغه ملګرو ته زنګونه و وهل.

ملګرو يې و ويل:

هغه تر ناوخته زمونږ سره و.

بيا کور ته لاړ.

د رحمت پلار ټرافيکو او څو روغتونو ته هم زنګ و واهه.

ټرافيکو وروسته له پوښتنې نه و ويل:

د هوايي ډګر په سړک د شپې له خوا يوه موټر له بل سره ټکر کړی دی.

د رحمت پلار و پوښتل:

د موټرو رنګونه څه ډول ول.

هغه و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د يوه موټر رنګ تور او د بل سپين و.

بيا د رحمت پلار و پوښتل:

چلونکي يې څه شول؟

ټرافيکو و ويل:

هغوی خلکو روغتون ته ليږدولي دي.

بيا يې د هغوی نه د روغتون پته واخيسته او په چټکتيا يې خپل بل موټر واخيست او د کور نه د باندې شو.

هغه روغتون ته لاړ او په دروازې کې يې له نوکريوال نه پوښتنه وکړه:

د شپې د چلونکو حالات څنګه دي؟

څوک خو به يې مړ نه وي؟

هغه و ويل:

نه!

د خدای فضل دی.

اوس په هوښ راغلي دي.

ډېره ناوړه پېښه وه.

ښه شوه چې په خير سره تېره شوه.

د رحمت پلار په منډې عاجل څانګې ته لاړ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



البته یې خپل زوی ولید.

زوی یې خپل پلار ته په اشاره سلام وکړ.

بیا د رحمت پلار و ویل:

ښه شو چې په خیر تېر شو.

د رحمت پلار داکټر نه پوښتنه وکړه.

داکټر و ویل:

څه ستونزه نه شته.

د هغه سر د موټر په چت کلک لګېدلی دی.

شه و چې د موټر هوایې کڅوړه خلاصه شوې او د شیشې د لګېدو نه یې ژغورلی دی.

بیا د رحمت پلار و ویل:

څه و خت کولای شو، کور ته لاړ شو؟

داکټر و ویل:

اوس خو تر سیروم لاندې دی.

کوم وخت چې سیروم یې خلاص شو، کولای شئ، کور ته لاړ شئ.

هغه خوشحاله شو، څوکې یې را واخیسته او د رحمت خوا ته کېناست.

د هغه سیروم خلاص شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا نرسه راغله د هغه د لاس نه يې سيروم خلاص کړ.

بيا بله نرسه راغله او د رحمت پلار ته يې و ويل:

موټر لرې؟

هغه و ويل .

هو!

بيا يې و ويل:

لمړی د روغتون فيس تحويل، بيا موټر راوله.

هغه و منه.

د روغتون فيس يې تحويل او موټر يې راوست.

بل نارينه نرس د هغه سره مرسته وکړه او رحمت يې موټر ته پورته کړ.

بيا داکټر ورته نږدې شو او نوې نسخه يې ورکړه او د هغه پلار ته يې و ويل:

ستا زوی د نشې په حالت کې موټر چلولی دی.

کوښښ وکړه چې هغه د نشه يی توکو نه لرې و ساتې، همدا راز د څو ورو‌ځو د پاره هغه سره د پېښې په هکله خبرې مه کوه.

هغه بايد تر يوې اونۍ پورې آرام وکړي.

ښه خواره او پرېمانه مېوې ورته ورکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................

هغه و منه او د داکټر نه يې منه، بيا وروسته يې خداى پا ماني وکړه او د روغتون نه د باندې شو.

هغوى دواړه کور ته لاړل.

د رحمت مور د هغه کټ سم او هغه ته يې و ويل:

دلته پر کټ پرې وځه.

زه به درته د چرګ يخني پخه کړم.

څو دکيکې وروسته هغه بيده شو.

ورځې شپې او شپې سبا کېدې.

د هغه حالات مخ په ښه کېدو شو.

يوه ورځ يې پلار ته و ويل:

اوس ښه شوى يم.

راځه چې موټر وګورو او جوړ يې کړو.

هغه و ويل:

موټر د ترافيکو په ښارګوټې کې دي.

زه به ټرافيک ته زنګ و وهم چې دواړه موټر د دوېيم پروان د موټر جوړولو سراى ته ولېږدوي.

هغه ټرافيک ته زنګ و واهه او هغه ته يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د یوې میاشتې **ناوې**

.............................................................................

نن تر غرمې مخکې هغه دواړه موټر د دوېيم پروان د موټرو جوړولو ورکشاپ ته و لیږدوه او ما ته احوال راکړه.

ټرافیک و منه.

دوې ګړۍ وروسته یې موټر د دوېيم پروان د موټرو جوړولو ورکشاپ ته و لیږدول او د رحمت پلار ته یې احوال ورکړ.

بیا د رحمت پلار خپل زوی ته و ویل:

ما او تا به ډوډۍ د خوړلو نه وروسته التـه لاړ شو.

هغه و منه.

هغوې دواړو ډوډۍ خوړو نه وروسته، له کوره و وتل او د موټرو جوړولو سرای ته لاړل.

د رحمت پلار د هغه او د بل چلونکي موټر وکتل.

ډېر بې درکه وران شوې ول.

بیا یې له جب نه خپل موبایل راو ویست او څه عکسونه یې واخستل.

څو دکیکې وروسته د بل موټر خاوند هم راغی.

دواړو سره سترې مشي وکړه.

بیا یې مستري ته غږ کړ.

مستری راغي او هغه ته یې و ویل:

امر کوه صیب!

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه وکړم؟

هغه و ويل:

دا دواړه موټر به، په څو افغانيو جوړ شئ؟

هغه و ويل:

زه به ټولو مستريانو ته غږ کړم تر څو هر يوه د خپلې برخې نرخ و وايي.

د رحمت پلار و ويل:

سمه ده!

ژر شه!

زه بيا خپلې دندې ته ځم.

هغه لاړ او نور مستريان يې راټول کړل.

هغوې د موټرو شاوخوا تاو راتاو شوو او په ليکونو يې لاس پورې کړ.

وروسته ټولوخپل لېستونه د رحمت پلار ته ورکړل.

بيا هغه نرخونه په موبايل کې ټول(جمع) کړل.

د دواړو موټرو تاوان د رحمت باندې و، ځکه چي د بل موټر يې د شا د خوانه وهلی و.

ټولې پيسې ۱۶۰ زره افغانۍ شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

بيا د رحمت پلار له جېبه ۵۰ زره افغانۍ و وېستې او د مستريانو مشر ته يې ورکړې.

هغه ته يې و ويل:

د موټرو په جوړولو پيل کړه.

زه د هرې اونۍ په پای کې تاسو ته ۵۰ زره افغانۍ درکوم.

هغه و منه.

د رحمت پلار خپل زوی ته و ويل:

وګوره!

ټول د تا له لاسه!

ما ته، تل تاوان په برخه کوې.

رحمت ډېر خپه شو او څه يې و نه ويل.

بيا پلار يې و ويل:

دا به دې په نصيب کې و.

ښه شو چې په خير تېر شو.

نور کوښښ کوه چې داسې موټر و نه څغلوې.

هغه و ويل:

سمه ده!

بيا د سرای نه د باندې شوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رحمت يې کورته ورساوه او خپله يې دفتر ته لاړ.

مياشت تېره شوه او د دواړو موټر جوړ شول.

بيا رحمت سرای ته لاړ او خپل موټر يې واخيست او د جلۍ سيمې ته لاړ.

هغه و نه توانېد په هغې ورځ جلۍ سره و ويني.

بيا يې انډيوالانو ته زنګ و واهه.

هغوی خوشحاله شو او هغه ته يې و ويل:

راځئ.

باغ بالا ته راشه!

مونږ هم الته درځو، بيا به سره و وينو.

هغه و منه.

او الته لاړ.

څه وخت تېر شو او ملګرې يې ورسېدل.

هغه خپل ملګرو ته و ويل:

تاسو ډېر نا ځوانه ياست.

زما پوښتنه مو و نه کړه.

هغوی و ويل:

مونږ د ستا پوښتنې ته راغلو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته بې هوښه وې.

بيا څو ورځې دې موبايل هم بند و.

هغه و ويل سمه ده.

ملګرو يې و ويل:

راځئ!

د رحمت د ښه کېدو په خاطر يو سګرټی و وهو(وڅکوو).

رحمت و ويل:

نه!

ما ته داکټر ويلې دي تر څو سګرټی بس کړم.

هغوی و ويل:

سمه ده.

مونږ به سګرټی و وهو(وڅکوو).

وروسته به، ته مونږ کورو ته ورسوې.

هغه و ويل :

سمه ده!

څه څنډ وروسته خپل ټول ملګري يې کورونو ته ورسول او خپله يې کور ته لاړ.

سهار وختې له خوبه پاڅېد.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاى يې و څښه او بيا يې خپلې مور ته و ويل:

زه د انګرېزۍ ژبې کورس ته ځم.

ښو ورځې نه وم تللى.

مور يې و ويل:

سمه ده.

ښوا!

ډېر پام به کوې تر ښو کومه ستونزه منځ ته نه شي.

هغه و ويل :

سمه ده.

بيا هغه خپل د ورور موټر ته کېناست او د کور نه د باندې شو.

هغه د جلۍ سيمې ته لاړ او الته يې د سرک پر غاړې انتظار وکړ.

ښو دکيکې وروسته جلۍ راغله.

رحمت له موټر نه کوز او هغې ته يې سلام ورکړ.

هغې د رحمت سلام ته ځواب ور نه کړ او په خپلې لارې روانه شوه.

رحمت هغې ته و ويل:

ولې دي زما سلام ته ځواب ور نه کړ؟

هغې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



 څو ورځې چېرته ورک وې؟

کومه بله جلۍ دې و نه مونده، بيا ما پسې راغلې.

رحمت و ويل:

نه!

ته خبره نه يې.

زما موټر ټکر شو او نږدې و چې زه مړ شوی وم.

يوه ورځ په روغتون کې بستر او تر سيروم لاندې وم.

بيا يوه اونۍ په کور کې وم.

اوس ښه شوی او د ستا ليدو د پاره راغلم.

نه ګورې چې دا بل موټر دی.

هغې و ويل:

هو!

دا بل موټر دی.

زه خبره نه وم.

و بښه!

رحمت و ويل:

کومه ستونزه نه شته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هره ورځ ستا ليدو ته راځم.

هغې و ويل:

سمه ده.

خو!

که څوک مونږ سره و ويني؟

هغه و ويل:

ته پر ما ګرانه او غواړم چې له تا سره واده وکړم.

بيا جلۍ خوشحاله او د رحمت نه يې خداى پاماني واخيسته او کار ته روانه شوه.

و ختونه تېرېدل او پر جلۍ د کور غړيي پوى شوو.

ورونو يې خپلې خور ته و ويل:

الک ته و وايه چې د ستا له پاره زمونږ کور ته راىباران ولېږي که نه مونږ تا ته اجازه نه درکو چې کار ته لاړه شې.

څو ورځې تېرې شوې.

جلۍ رحمت ته د خپلو ورونوهوډ بيان کړ.

رحمت و ويل:

کومه ستونزه نه شته.

زه به د کورنۍ سره مې خبره وکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځو ورځې تېرې شوې.

رحمت د مينې په هکله خپلې مور ته و ويل:

مور يې و ويل:

لمړی بايد دا خبره ستا د پلار سره وکړم.

هغه ومنه.

شپه شوه.

د رحمت پلار راغی.

د شپې د ډوډۍ خوړولو نه وروسته د رحمت کيسه يې د هغه پلار ته وکړه.

پلار يې و ويل:

سمه ده!

زه  به د هغې جلۍ په هکله هر اړخيزه معلومات راټول بيا به پرې خبرې وکړو.

سبا د رحمت مور، رحمت ته تېرې شوې کيسې وکړې.

رحمت و ويل:

دا خبره زما پلار پورې اړه نه لرې.

هغه ځانته بنځه کوي، که ما ته؟

بيا مور يې و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته ځو ورځې صبر وکړه تر ځو ستا د پلار پلټنه روښانه شي.

ځو ورځې تېرې شوې.

د رحمت د پلار پلټنې پای ته ورسېدې.

بیا یې خپلې ښځې ته و ویل:

زما پلټنې بشپړې شوې.

خلک ښه خلک دي.

مګر ډېر غریب دي.

مونږ او هغوی سره جوړ نه راځو.

ښه به وې چې رحمت له هغې جلی تېر شي.

د رحمت مور د هغه د پلار خبره، رحمت ته و کړه.

هغه و ویل:

نه !

دا نا شونې ده.

که پلار مې وغواړې او که و نه غواړي، زه د هغې جلی سره واده کوم.

څه موده تېره شوه او رحمت بېرته پر سکرتیو راغی.

پلار یې اړ شو چې هغه ته واده و کړي.

هغه د رحمت له پاره ډېر ساده مراسم ونیول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو کسان يې خبر کړل.

ناوې يې کور ته راوسته.

د رحمت په واده کې ګاونډيان هم خبر نه وو.

څو ورځې تېرې شوې.

ګاونډيان يې په خپله خبر او د هغوی کور ته ښځې د ناوې ليدو له پاره لاړل.

ګاونډيانو ښځې څه سوغاتونه هم له ځانه سره وړي ول.

هغوی ناوې وليده.

هغوی ته يې د نوي ژوند مبارکي و ويله.

بيا يې د رحمت د مور نه ګيله وکړه.

د رحمت مور و ويل:

بس يو کار و.

وشو.

د مونږ وخت لږ و.

و نه توانيدو ګاونډيان او ډېر دوستان خبر کړو.

ګيله مو په سترګو.

د نورو زامنو په وادو کې به تاسو ټول، هرو مرو خبروو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.....................................................................

ګاونډيانو ښځو چاى و ځښل، بيا يې د ناوې، رحمت د مور نه خداى پا مانې واخسته او خپلو کورونو ته روان شوو.

وختونه تېرېدل.

کله نا کله به د هغوى د کور نه غلمغل (غالمغال) غږ پورته کېده.

ګاونډيانو به ويل:

څه وکړو.

د هغوى خپل منځي خبرې دي.

د رحمت پلار به د رحمت او د هغه د ښځې تر منځ نفاق اچاوه او غوښتل يې چې رحمت خپلې ښځې نه بيل (طلاق ورکړى) او هغه ته بله د کوم تجار لور وکړي.

د هغوى ژوند مخ په تريخېدو شو.

۲۹ ورځې يې د واده تېرې شوې.

پر دېرشم  د هغې د ښځې ژوند کليزه ( سالګره) وه.

هغې رحمت ته و ويل:

سبا زما کليزه ده.

ته بايد ما ته يوه ګوته او ګليزې کيک واخلې.

شپه به خپله خور او څه نور ګاونډيانو جونۍ هم وغواړو.

هغه و منه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سبا شو.

هغه خپل پلار ته و ويل:

ما ته ځو افغانۍ راکړه تر ځو خپلې ښځې ته د سرو زرو ګوته واخلم او هغې ته د کليزې محفل ونيسم.

پلار يې و ويل:

زما سره اوس پيسې نه شته.

غرمې نه وروسته بانک ته ځم، څه پيسې به راوخلم او مازيګر به يې تا ته درکړم.

رحمت و ويل:

ورځې لنډې دي.

کوم وخت دې چې پيسې واخيستې ما ته زنګ و وهه، مونږ به راشو او د سرو زرو ګوته به واخلو.

هم به کيک فرماييښت (فرمايش) ورکړو او هم به څه دوستان خبر کړو.

هغه و منه.

ماسپښين شو، بيا مازيګر.

د هغه د پلار نه کوم ځواب رانه غی.

بيا هغه خپل پلار ته زنګ و واهه تر ځو د هغه نه احوال واخلي، چې پيسې يې تر لاسه کړې دي او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................................................................

د هغه د پلار ټيلفون بند و.

هر څه کوښښ يې وکړ، اړيکې يې ټينګې نه شوې.

بيا مور يې رحمت ته زنګ و واهه او د هغه نه يې پوښتنه وکړه چې:

څنګه شو؟

هغه و ويل:

زما د پلار ټيلفون بند دی.

څه وکړم؟

هغې و ويل:

لږ صبر وکړه، هغه به کور ته راشي او تا ته به پيسې درکړي.

رحمت په غصه شو.

بيا يې ټيلفون بند کړ.

ماښام شو.

رحمت يوه نږدې پارک ته لاړ او الته يې د سګرټې په څکولو پيل کړل.

ماسخوتن شو.

بيا يې پلار ته زنګ و واه.

د هغه ټېلفون بند و.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيا يې بل سګرټې بل کړ او تر پايه يې وڅکوه.

شپه ناوخته شوه او هغه کور ته لاړ.

د هغه او د ښځې تر مينځ غلمغل (غالمغال) د وهلو او ډبلو غږ هم پيل شو.

رحمت خپله ښځه په سر کلکه و وهله.

هغې چيغې کړې.

له سر نه يې سرې وينې په بهېدو شوې.

سر يې و څرخېد، ژر يې ټېلفون واخيست او خپلې مور ته يې زنګ و واهه.

رحمت وارخطا شو او منډه يې کړه تر څو د هغې نه ټېلفون واخلي ، هغه و غورځېده او ټيلفون يې د تخت څټ (شا) ته و غورځېد.

رحمت کوښښ وکړ تر څو هغه راپورته او ټيلفون يې له لاس نه واخلي.

هغه يې راپورته کړه، ټېلفون يې په لاس کې نه و.

په ټيلفون کې د جلۍ د زګېروي غږ، ته.

مور يې هر څه ويل:

بلې!

بلې!

ولې خبرې نه کوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د هغې زګېروي ختم او ټيلفون روښانه و.

رحمت بيا هغې ته ورغی او هغې ته يې په چيغو و ويل:

پاڅه !

ځان دې په ټګۍ مه اچوه.

روغه جوړه يې.

پاڅې چې روغتون ته دې ورسوم.

هغې وختې سا ورکړې وه.

رحمت بيا هغه و ښوروله.

هغه ورو، ورو مخ په سړېدو شوه.

په دې وخت کې رحمت چيغه کړه او خپلې مور خوا ته روان شو.

مور ته يې و ويل:

ژر شه!

وګوره !

پر ښځې مې څه شوي دي؟

مور يې کوټې ته د ننه شوه.

د هغه د ښځې زړه ته يې لاس وراندې او و ويې ويل:

دا خو دې وژلې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس به څه و کړو؟

رحمت حیران و دریږ.

مور یې خپل میړه ته زنګ و واهه او کیسه یې هغه ته بیان کړه.

هغه و ویل:

زه اوس دستې، راځم .

ته په دې هکله چا ته، څه مه وایه.

هغه کور ته ورسېد او له ځانه سره یې څو عسکر هم راوستل.

بیا د جلۍ ورونه او د کورنۍ نور غړي هم را ورسېدل.

عسکرو هغوی ته و ویل:

کار د کار نه تېر شوی دی.

غلمغل (غالمغال) او رسوایي به نه کوئ، تر څو ګاونډیان خبر نه شي.

مونږ به له ستاسو سره مرسته وکړو.

د جلۍ مور غلي د رحمت کوټې ته لاړه او خپله لور یې په سرو وینو کې ډوبه ولیده.

بیا یې عسکرو ته و ویل:

ژر دا نږدې روغتون ته ورسوئ.

د رحمت پلار و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



.............................................................................

زه دا ټول کارونه په خپله کوم.

عسکر مه په عذابوئ.

هغه نږدې روغتون ته زنګ و واهه او هغوی امبولانس راواستوه.

د هغې مړی یې په نیمه شپه کې روغتون ته ولیږداوه.

عسکر او د هغې د کورنۍ غړي هم ور سره لاړل.

ګاونډیان په دې هکله خبر نه شو.

یواځې یو کس خبرشو کوم چې به د ورځې له خوا کوڅې جاړو کوې او د کورونو نه کثافات به یې د ښاروالۍ کثافات دانۍ ته لیږدول.

د هغه کوټه د سړک پر غاړی او د موټرو پارکنګ ته ورته وه.
د رحمت پلار مخکې د تګ نه هغه ته نږدی او څه پیسې یې ورکړې او هغه ته یې و ویل:
څه دې و نه لیدل:

هغه و ویل:

هو!

څه مې و نه لیدل.

بیا هغوی روغتون ته روان شو.

لمړی شخصي روغتون ته لاړل هغوی مړی و نه مانه او هغوی ته یې و ویل:

تا سو باید دولتي روغتون ته لاړ شئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغوی دولتی روغتون ته لاړل، البته هم نوکریوال د هغوی نه و غوښتل تر څو موضوع دې له سیمې د پولیسو سره شریکه شي.

په دې وخت کې د رحمت پلار خپل موبایل واخیست او د سیمې د پولیس مشر ته یې زنګ و واهه او هغه ته د پیښې په اړه لنډ معلومات وړاندې کړل.

هغه و ویل:

زه نن شپه نوکری یم، ته البته انتظار وکړه، څو دکیکې وروسته زه په خپله راځم.

څو دکیکې تېرې شوې.

د پولیسو مشر روغتون ته ورسېد او نوکریوال ته یې و ویل:

ژر مړی سړې خونې ته و لیږدوه.

نور مسایل به په خپلو کې حل کړو.

نوکریوال د سړې خونې مسول کس له خوبه راویښ کړ او هغه ته یې و ویل:

ژر سه!

دا مړی سړې خونې ته ورسوه او الماریۍ شمېره یې ما ته راکړه.

هغه رحمت د پلار سره سړې خونې ته لاړ، مړی یې په الماریۍ کې کېښود.

بیا یې شمېره د ځانه سره ولیکه، د سړې خونې دروازه یې وتړه او د روغتون ودانۍ ته ستون شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه د الماری شمېره نوکریوال داکټر ته ورکړه او خپله يې ببرته خپل ځای ته لاړ او بیده شو.

نوکریوال داکټر، پولیسو، د رحمت پلار او د جلې کورنۍ څه فورمې ډکې او لاس لیک کړې.

بیا پولیسو د هغو فورمو کاپي هم واخیسته او اصلي یې روغتون ته پرېښودې.

بیا یې نوکریوال داکټر ته و ویل:

فورمې په دوسې کې کېږده او چا ته هېڅ راز معلومات مه ورکوه.

مونږ سبا نهه بجې راځو او مړی د ښخولو د پاره ادیرې ته وړو.

هغه ومنه.

بیا پولیسو مشر د جلې کورنۍ ته و ویل:

د موضوع په هکله چا ته څه مه وایئ، که چا پوښتنه کوه، و وایئ زړه یې په ناڅاپي ډول دربدلی و.

اوس زه تاسو په خپل موټر کې، تاسو کور ته بیا یم.

بیا یې د رحمت پلار ته و ویل:

ته هم لاړ شه او د سبا له پاره د جنازې او ښخولو بندو بست و کړه.

د رحمت پلار و ویل:

زه نه غواړم چې په دې هکله څوک خبر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



صرف څو کسه به راشو او مړی به لمړی د ادیرې کوشني جومات ته یوسو، بیا به یې د جومات تر خوا ښخه کړو.

د پولیسو مشر و ویل:

سمه ده.

ستا خوښه.

سبا اته نیمې بجې هرو مرو د سړې خونې تر خوا و درېږه.

بیا یې د روغتون نوکریوال ته و ویل:

تا سو خو امبولانس موټر هم لرئ.

هغه و ویل:

هو!

بیا د پولیسو مشر و ویل:

سبا پر اته نیمو بجو امبولانس هم د سړې خونې خوا ته وګورم.

هغه و ویل:

سمه ده صیب.

بیا در حمت د ښځې کورنۍ و ویل:

مونږ کولای شو په ټکسي موټر کې لاړ شو؟

د پولیسو مشر و ویل:

نه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې وخت کې موټر نه پيدا کيږي.

ښه به وي چې تاسو له ما سره لاړ شئ.

هغوی و منه او د پوليسو د مشر موټر کې خپل کور ته لاړل.

سهار شو.

بيا څو کسانو د رحمت د ښځې جنازه واخيسته، لمړی د اديرې جومات تر څنګ و مينځه ، کفن يې ورته واغوست، د جنازې لمونځ يې تر سره بيا يې هغه خاورو ته وسپاره.

هيچاه د هغې پسې خير او خيرات و نه کړ او نه چا د هغې فاتحه واخسته.

د جنازې د خارو سپارلو نه وروسته پوليس راغلل او رحمت يې محبس ته يووړ.

پلار يې ډير کوښښ وکړ تر څو د پيسو په مرسته رحمت خلاص کړي، خو و نه توانيد.

رحمت شپږ مياشتې په بند کې تيرې کړې.

بيا په ډيرو خواريو د زمانت په وړاندې کولوسره له بنده خوشې او په کور کې د پوليسو تر نظارت لاندې پاتې شو.

هغه ته يوه روحې نارغي پيدا شوه.

هرڅه چې يې په مخه راتلل، ماتول.

نه يې کتل چې هغه د ده مال دی او که د نورو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګاونډیو به هغه ته څه نه ویل.

هغوی پوهېدل چې رحمت په روحي ناروغۍ اخته شوی دی.

رحمت ښکلې ځوانې درلوده.

ټول د نا اهلو ملګرو د لاسه، هغه یې بیا په سګرټیو واړاوه.

هغه تر درملنې لاندې و.

له یوې خوا غمونه، د بلې خوا چرس څکونه او د روحي ناروغۍ داروګانو هغه یې ورو، ورو لیونتوب ته نږدې کړ.

کله نا کله به پر هغه حمله راتله او کورنۍ به یې هغه روغتون ته بوته.

پوره یوه میاشت د هغه د ښځې د مړینې نه تېره شوه.

هغه خپله دوا نه وه خوړلې او د دوا پر ځای یې سګرټې څکولې و.

د شپې نا وخته کور ته راغی او مور ته یې و ویل:

څو میاشتې مخکې په دې وخت ما خپله ښځه وژلې وه.

نن غواړم چې زه هم ځان وژنه وکړم.

مور یې په خندا شوه او ویې ویل:

ته څه وایې؟

هغه یوه پېښنه وه.

ته سوچونه مه کوه!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته به لګه د ګل په شان روغ او تا ته به له هغې نه ښکلې او ښايسته ښځه وکړو.

هغه چوپ (چپ) پاتې شو.

بيا يې مور ته و ويل:

سمه ده،

زه ويده کيږم.

ته هم خپلې کوټې ته لاړه او بيده شه.

د رحمت مور د کوټې نه و وته او دروازه يې د باندې خوا نه بنده کړه.

هغې سوچ کوه که چېرې رحمت وغواړي ځان وژنه وکړي، مجبور دی د کوټې نه و وځي او کومه رسۍ او يا مزی پيدا کړي.

په دې وخت کې به زه راويښه او د هغه مخنيوی به وکړم.

د شپې يوه بجه وه.

د مور يې طاقت را نه غې او د هغه کوټې ته لاړه.

دروازه يې خلاصه کړه.

ګوري!

هغه نه دی بيده شوی او پر خپل تخت (کټ) باندې ناست او سوچونه وهي.

بيا يې هغه ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بيده شه!

شپه ناوخته ده.

هغه و ويل:

ته خپلې کوټې ته لاړه شه، زه بيده کېږم، بيا سبا مې له خوبه راويښ کړه.

مور يې و ويل:
سمه ده.
ته اوس بيده شه.
يوه ګړۍ وروسته مور يې بيا د هغه کوټې ته لاړه، ګورى هغه نيم پر کټ او نيم پر ځمکه لوېدلى دى.
هغې منډه کړه او هغه يې پر تخت سم کړ.
د هغه د خولې نه وينه راتله.
هغه دېره وارخطا او چيغه يې کړه.
د هغې مېړه او د کورنۍ نور غړي را ورسېدل.

هغوى رحمت يې له کوټې ښکته او موټر کې يې نږدې دولتي روغتون ته ورساوه.

البته يې د عاجلې څانګې ته ويوړ.
داکټرانو هغه معاينه کړ او د هغه کورنۍ ته يې د زړه د صبر غوښتنه وکړه.

بيا يې د رحمت پلار ته و ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مړى اوس كور ته وړې، كه سبا؟

هغه و ويل:
ښه به وي چې هغه سړې خونې ته يوسو او سبا به نورو دوستانو ته هم خبر وكړو.

لمړى به يې جنازه كورته نږدې جومات كې وكړو، بيا به يې هغه د ښځې خواته خاورو ته وسپارو.

داكټر د سړې خونې مسول ته غږ او ويې ويل:
دا جنازه هم په يوې الماري كې كيږده، سبا خپلوان يې راځي او هغه د سړې خونې ته وړي.
هغه و منه!
بيا د جنازې د الماري شميره يې نوكريوال داكټر ته وركړه او خپله يې كوټې ته لاړ او التـه بيده شو.

سهار وختى د رحمت خپلوان راټول او دهغه جنازه يې لمړى د ماجت د جنازې منځلو ځاى ته يوړه، التـه يې پرېمنځه او بيا وروسته يې په كفن كې تاو او په تابوت كې يې كېښود.

لږ وروسته يې كور ته ولېږداوه بيا پرلس بجو يې ښخ كړ.

ډېر كلونه تېر شو.

د رحمت د ښځې او د هغه د مرګ په هكله ټول رازونه پټ پاتې دي.

**پاى**

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د چاپ شویو کتابونو لېست

۱. معماری افغانستان
۲. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری
(بخش شفاخانه ها)
۳. راهنمود طلايي
(برای اساتید انستیتوت های تخنیکي و ساختمانی افغانستان)
٤. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد اول
٥. رسم تخنیک (گامی به سوی دنیای انجینری) جلد دوم
٦. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش اداری)
۷. معماری اصیل شهر کابل (مرادخانی)
۸. معماری شهر کابل (بی بی مهرو)
۹. افغانستان در قرن تکنالوژی
۱۰. زونبندی اقلیم و زلزله افغانستان
۱۱. صدقه جاریه/ دنیای انجینری
۱۲. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد اول (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۱۳. داستان حقیقی با مقیاس معماری
١٤. فرار از کشور- با تصاویر مستند
١٥. نقش دانشمندان مسلمان در فن معماری و مهندسی
١٦. پخسه در افغانستان
۱۷. بنیا نگذاری اولین مساجد توسط افغانها در آسترلیا
۱۸. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد دوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۹. منار جام – الهامی برای قطب منار
۲۰. آموخته های ناب از طراحی تا نظارت
جلد سوم (۱۹۹۰ الی ۲۰۲۱)
۲۱. جام یا کلیان ( کلان)
۲۲. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد اول
۲۳. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد دوم
۲٤. معماری گل و چوب (معماری شهر کهنه کابل) جلد سوم
۲٥. چېر ته چې قانون نه شته (ګډوډي د افغانستان په معماری کې)
۲٦. مېرنه جوما تونه ,, پخوا او نن ،،
۲۷. هله جور کو (نی پخسه – مقاوم زلزله)
۲۸. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مساجد)
۲۹. اطلاعات، اصول و قواعد طراحی در معماری (بخش مکاتب)
۳۰. هنر و صنعت چوب در مرادخانی
۳۱. هنر و پیشه حکاکي - زرگری در مرادخانی
۳۲. هیچ (چهل داستان واقعی)
۳۳. معماری اصیل شهر کابل
(تشریح مورخ ۱۷ ماه میزان سال ۱۴۰۱ پوهنتون پولی تخنیک کابل)
۳٤. ۴۰- چهل
۳٥. مجنون او ګلچین (پښتو ناول)
۳٦. در جستجو (ناول به زبان دری)
۳۷. تفاوت ها تفاوت می آورد (کتاب تصویری)
۳۸. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد اول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۹. برف ها آب ميشود
٤٠. رسم و تخنيک (گامی به سوی دنيای انجينری) جلد سوم
٤١. آرزو و اميد (ناول به زبان دری)
٤٢. بوډا ښکاري (پښتو ناول)
٤٣. د اسلامي معمارۍ پيل
٤٤. نامنوني ژوي (پښتو ناول)
٤٥. حيوانات شوخ ( ناول به زبان دری)
٤٦. مجموعه از دروس دينی مولوی صاحب خيرالله مخدوم (جلد دوم)
٤٧. د شپيلۍ مينه (مه ينه) په کچه کړۍ کې (پښتو ناول)
٤٨. حشمت خان د کلا معماري
٤٩. د افغان الک او آذري جلۍ مينه (پښتو ناول)
٥٠. د وچو بنونه او پارکونو معماري
٥١. د يوې ښونکې مينان په يوه ټولګي کې (پښتو ناول)
٥٢. د ژرنده ګرې ماما مينه (پښتو ناول)
٥٣. په اسلامي نظام کې ودانيز پرمختګ
٥٤. شپنه ادې (پښتو ناول)
٥٥. بې زده کړې پوی (پښتو ناول)
٥٦. د مينې تاو (پښتو ناول)
٥٧. (BIM) په خپله ژبه - په نړۍ کې تر ټولو نوې او ګړندۍ کړنلاره د معمارانو او اينجينيرانو(انجينرانو) له پاره
٥٨. مجموعه از دروس دينی مولوی صاحب خيرالله مخدوم (جلد سوم)
٥٩. سيدو او عيدو - د کوشنيوالي خواږه ملګري (پښتو ناول)
٦٠. د يوې مياشتې **ناوې** (پښتو ناول)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کار لاندې کتابونو لېست

۱. مجموعه از دروس دینی مولوی صاحب خیرالله مخدوم (جلد چهارم)
۲. سرغندوی (ناب، مشهور) پوډري
۳. لیونی لېوه
۴. کوشنۍ سوداګره
۵. سپین کارغه
۶. سور تنور
۷. خړه بیزو
۸. بندي مرغه
۹. توده بړستن
۱۰. د ژوند پای


(c) ketabton.com: The Digital Library



## د امکان او وخت په صورت کې

١. پخسه در افغانستان (به زبان انگليسی)
٢. تاريخ معماری افغانستان
٣. حويلی های آسمان خراش
٤. ارتباط گذ شته، حال و آينده در معماری
٥. استعداد، سرعت و اقتصاد در معماری افغانستان
٦. شيطان چراغ
٧. خاطره ها

(c) ketabton.com: The Digital Library



# A Bride

# Of a Month

**Written by:** PHD Architect Hashmatullah Atmar

**Date:** April - May /2025

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**